
# نسائی ناروغی




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ناروغانو روغتیائي ارزونه:



(c) ketabton.com: The Digital Library

سربيره پردي چه دناروغ دروغتيا په هكله معلومات اخيستل كيږي نرس بايد دناروغى د سوابقو په باره كي او دنسائي خا صو ناروغيو په اړه دناروغ څخه پوښتني وكړي . دتحيض ددوري اودسيكل دمودي، دويني دمقدار ، او مياشتنى عادت ددوري خونريزى ، دمياشتنى عادت په منځ كي خونريزى ، دمقاربت څخه وروسته خونريزى ، د Menopause ددوري خونريزى ، دحاملګى بلاربښت په اړه معلومات چه څومره ولادتونه كړيدي ، ددرملني په هكله معلومات ، دتحيض په دوره كي ددرد موجوديت ، دمقاربت يا نژديكت په وخت كى دردونه ،دحوصلى دردونه اوبولي مشكلاتوتاريخچه اودجنسي تيرى په اړه پوښتني اودجراحي عملياتو دتاريخچي په اړه بايد معلومات ترلاسه سى .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمعلوماتو دراټولولو په وخت کي نرس يوازينۍ څوک دی اوکولاي سی چه مربوطه زده کړي په ټاکلي وخت ناروغ ته بيان کړي . همدارنګه د جنسي تيرئ دپيښيدو په اړه پوښتني دمعايناتو يوه مهمه برخه جوړوي دهغو ښځوچه اته لس کلنۍ عمرئي پوره کړي وي اوجنسي فعاليت ئي زيات وي په کال کي يوپلا دتيو اوحوصلي معايناتو اجرا کول ضروري ګڼل کيږي .

دمعايناتو په وخت کي بايد رواني کتني ته ډيره پاملرنه وکړو اودناروغ محرميت ته احترام وشی . ځيني ښځي دځينو سوالونو په وړاندي دبيري او شرم احساس کوي اوداسي سوالونه بايد ډيره محرمانه ډول ترسره سی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړی کتنه کي ښځه ډیره بیریږي اونرس د معایناتو دمخه باید د
ناروغ سره خبري وکړي تر څو د هغه د بیري احساس لیري کړي
،لومړی نارغ باید وهڅول سی تر څو د ادرار معاینات ترسره کړي د
حوصلي معایناتو لپاره ډیر مروج وضیعت lithotomy دی دستپیکولوم
مناسب ستایزونه چه فلزي او یا پلاستتي جوړښتت لري چه د حوصتلي
معایناتو لپاره کار ځیني اخیستل کیږي اودهغه دتطبیق په وخت کي باید
د Lubricant gelڅخه استفاده ونشي ځکه ممکن په دغه تجارتي موادو
کي داسي شیان ګډ وي چه دنسج شناسي دتستونو په نتیجه د غلطي سره
مخامخ کړي .چه دغه تستونه دپاپانیکولا یا پاپ اسمیر په نامه یادیږي
پدغه تست کي د یوپای او استریل اپلیکاتور په ګټه اخیستني سره د رحم د
عنق دافرازاتو یو سمپل اخیستل کیږي اوسیرولوژي معاینات ترسره
کیږي ددغه سمپل څخه دکلچر معاینات کیدلای چه دخبیثه ناروغیو په
تشخیص خصوصاً په هغه ناروغانوکي چه په انتاناتو باندي ډیر ځلي اخته
کیږي مرسته کوون وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دواړه لاسونو جس کول پداسي حال کي چه يو لاس په مهبل کي اوبل لاس پر نس باندي ايښ ول کيږي يو ډير ښه تخنيک دی دحوصلي معايناتو لپاره او ددغه تخنيک پواسطه کولاي شو چه سرويکس ،رحم ، اوتخمدانونه دموقعيت له نظره وګورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نسايي معاينات

د نسايي امراضو د اساسي تدواي لپاره په موقع او قطعي تشخيص ته اړتيا شته .ددي لپاره چه نسايي امراض په قطعي توګه تشخيص عمومي او بالخاصه معاينات لازم ګڼل کيږي.د نسايي امراضو د تشخيص او تداوي لپاره معالج ډاکټر بايد په لاندي دريو ټکو باندی وپوهيږي:

| |
|---|
| ❖ د ناروغي په هکله د دقيقي مشاهدې او د قيق معايناتو په هکله معلومات. |
| ❖ د ماوفه عضوې د اناتوموفزيولوژي په اړه معلومات. |
| ❖ د ماوفه عضوې د اناتوموپتولوژي په اړه معلومات. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# : Dilation & Curettage

کله چه ناروغه په غیر طبیعي ډول خونریزي ولري ددغه میتود
څخه دتشخیص په ډول کار اخیستل کیږي او کله هم ددغه میتود
څخه ددرملني لپاره استفاده کیږي نرس ددغه پروسیجر په اړه
ناروغ ته معلومات ورکوي او ممکن داړتیا په وخت کي ددغه کار
لپاره عمومي انستیزي ته ضرورت پیدا اویا هم دموضعي انستیزي
پواسطه دغه عملیه ترسره .

(c) ketabton.com: The Digital Library

The image part with relationship ID rId2 was not found in the file.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نسايي امراضو د تشخيص لپاره د لاندی نسايي معايناتونو څخه استفاده کوو:

**۱- افرا زات:** افرازات ممکن د لوکوريا Leucorrhoea يا سپيني مايع په شکل وي لوکوريا د Mucoepithelial, Mucopurulent يا کيداي Wateryوي.کله ددي امکان هم شته چه دغه افرازات Bloodyوي. د افرازاتو په اړه بوی هم مطرح وي.

**۲- التهابات:** ممکن په خارجي تناسلي جهاز کي د انتاناتو د مداخلي او شتون له امله د التهاب علامي موجودي وي.او يا هم په ناحيه کي سوروالئ او يا هم يو سپين والئ موجود وي.

**۳- قرح يا Ulceration:** امکان لري چه د تفتيش سره په خارجي تناسلي جهاز کي يو تقرحي حالت موجود وي چه دغه تقرحات ممکن د سفليس ،توبرکلوز او يا د خبيث آفاتو له امله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴- Swellingیا پړسوب یا تورم:** د آفت د موجودیت له امله ممکن په خارجي تناسلي سیستم کې یو تورمي حالت موجود وي چه کیدای دغه پاړسوب د التهاب له امله وي او یا هم د تومور، Cystاو یا هم فتق له امله.

**۵- غیر طبعي نوي نشونماوي(New growth formation)** چه دا یو اناتوموپتولوژي حالت دي ،او د تومورونو لکه :

فبروما او لیپوما له سببه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۶- سوء تشکلات یا Malformations:** امکان لري د تناسلي جهاز په مربوطه نواحیو کې د تفتیش سره ځیني سوء تشکلات د ملاحظې وړ وي لکه: Labial fusion, Imperforated Hymen , Hermophrodis او هم کله کیدای د شفتان په نواحیو کې د مخکني آفاتو له کبله سو تشکلات ولیدل . او هم کیدای چه د کبیره شفتان او Mons Pubis په نواحیو کې اشعار یا ویښته اصلا موجود نه وي.

کله چه تناسلي خارجي اعضاوی تفتیش کوو باید چې د احلیل خارجي فوحه نه کړو چه د فوحي جسامت او موقعیت او د هغه د مجاورو انساجو د حالت په اړه باید معلومات تر لاسه کړو ،که چیري کوم پو لیپ موجود وي باید یاد داشت . د خارجي تناسلي جهاز مهمه برخه چه باید په دقت سره تفتیش عبارت دئ له Hymen څخه چه باید شکل ،رنګ او خاصتا Perforation یې یاد داشت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سپیکولوم په واسطه معاینه

مهبلی سپیکولوم هغه اله ده چه د هغه په واسطه مهبلی کانال، د رحم عنق،د سرویکس خارجی فوهه او مهبلی فورنکسونه معاینه کیږی. د سپیکولوم په واسطه د معاینی پر مهال لاندی ټکو ته توجه و.

**۱- مهبلی جداروته**

**۲- د رحم عنق یا سرویکس:**

**۳- رحم د عنق خروجی فوحه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Vaginoabdominal examination

دا معاینه په دي توګه اجرا کیږي چه د راسته لاس یو یا دوي ګوتي مهبلي کانال ته داخلیږي او چپه لاس د ګوتو په همکا ری د بطن له سره حوصلي ساختمانونه بخصوص رحم،او د هغه ملحقات معاینه کیږي .په دي معاینه کي د نظر وړ سا ختمانونه د دوو لاسو د ګوتو تر منځ او یا د مانورو د اجرا کولو په ذریعه جس کیږي او رحم د موقعیت ،جسامت ،تحرکیت ،حساسیت او قوام له نظ ره معاینه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحم طبعي موقعيت اکثرا Ante position وي اما کولاي ځيني حالاتو کي قدامي او جنبي موقعيت هم ونيسي ،د رحم قوام نسبتا کل وي خو کولاى کله نرم هم وي ،په اك ثرو مواردو کښي سطحه يي ن وډولر Nodularوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رحم شکل دسر چپه ناک په شان وي جسامت يې تقريبا 7.5Cmوي همدا رنګه ددغه معاينې په واسطه د رحم د تحرکيت په هکله قدامي،خلفي او جنبي خواوو ته معل ومات تر لاسه کولاي شو. د رحم د معاينې لپاره ډير ښه وخت هغه وي چه مثانه تش وي که چيري مثانه ډکه وي بايد تخليه دي دا ځکه چه رحم خلف خواته ټيله کوي او جس يې مشکل کيږي. ددغي معايني په واسطه د تومورونو ،کيستونو د شتون په هکله او هم که چيري مايع د دوګلاس په جوف کي موجود وي معلومات تر لاسه کولای **شو.**

**با يد په ياد ولرئ چه دا معاينات په نجونو کي نه اجرا کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Cervical Biopsy يا د رحم د عنق بيوپسي

که چيري مشکوی مرضي ټ د رحم په سرويکس کي موجود وي د آفت د تثبيتولو لپاره ددي معاينې څخه کار اخلو اما مخ له بيوپسي څخه بايد د هغو ځاي ونو څخه چه مشکوی التهابي نقاط ولري بايد سمير ( Smear) واخيستل او معاينه دي .او وروسته تر سمير د بيوپسي د اخيستلو لپاره اقدام و .په دي صورت کي څو پارچي د رحم د عنق څخه د هستوپتولوژي معايناتو لپاره د ما ووفه نقاطو څخه واخيستل .اما بايد ذکر کړو چه دغه معاينه ١٠٠% نتيجه نه ورکوي ځکه که چيري تومورل آفت ډير کوچني وي سر بيره پر دي چه څو پارچي مو د بيوپسي اخستي وي امکان لري چه بيا هم د تومورال نسج څخه کومه پارچه لاس ته نه وي راغلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

The image part with relationship ID rId2 was not found in the file.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Culdocentesis
# يا د دوګلاس د جوف بذل

دغه معاينه د نسايې آفاتو د تثبيتولو لپاره ډيره مهمه ده دا معاينه تر موضعي انستيزي لاندي اجرا کيږي او هم کيداى د انالجزيک دواګانو په تطبيق سره اجراکيږى. په دي معاينه کي Obturater يا د بذل ستن د رکتم له لاري دوګلاس جوف ته داخليږي ،که چيري دغه جوف د مايع څخه ډک وي مايعات راوځى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ويني موجوديت په دي جوف كي پر لاندي حالاتو دلالت كوي:

- Corpusluteum خونريزی
- د رحم د ملحقاتو د تومورونو څخه خونريزي.
- د تومورونو څخه خونريزی او د بطن د ساختمانونو څخه د تثقباتو په نتيجه كي خونريزی.
- Ectopic pregnancy له سببه خونريزی
- په ځينو حالاتو كي د ناتام سقط په صورت كي د Retrograde درحم د جوف څخه خونريزئ د رحمي تيوبونو د كانال په واسطه دوګلاس جوف ته راځي . د مكروب داخليدلو په صورت كي هم ممكن په جوف كي وينه وليدل چه هغه په بذل كي د اشتباه نتيجه ده ،كه چيري په دوګلاس جوف كي ډيره ليره وينه هم موجوده وي په ٩٠% واقعاتو كي ددې معايني په واسطه تثبيت كيداى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Radiological Examination:

۱- د رحم، مهبل او مثانې خیال لیدل کیږي. او که چیرې ښځه حامله وي د ۱۶ هفتو څخه وروسته( د جنین اسکلیت کیدای شی چی ولیدل).

۲- په پتولوژي حالاتو کي د تناسلي سیستم په یو ساده رادیولوژي کلیشه کي ممکن رحمي تومورونه او د رحم د ملحقاتو تومورونه ولیدل او یا هم په یو کلسیفاید فبروما کي کلسیفکیشنونه ولیدل . او یا هم په یو درموييد کیست کي د غاښ په ډول خیال ولیدل.

۳- د بولي سیستم د ډبرو په موجودیت کښې ممکن په پښتورګو ،حالبینو او یا هم په مثانه کی ډب ري په ایکسرې کی ولیدل شی.

۴- دا امکان لري چه په رادیوګرافي کلیشه کي په حوصلي عظامو او ستون د فقراتو کي د Erusion خیال د لیدلو وړ وي.چه د رحم او د هغه د ملحقاتو باندی د تومورنو پر میتاستاز باندي دلالت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

The image part with relationship ID rId2 was not found in the file.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Hysterosalpangography

دا معاينه ځرنګه چه د نوم څخه يي معلومه ده د رحم او د رحمي تيبونو د آفاتو په تشخيص کي مرسته کوي.په دي معاينه کي کثيفه مواد چه د روغني يا غوړ د نوعي څخه وي د رحم د عنق له لاري د رحم جوف او د تيبونو لومن ته داخليږي او وروسته راديوګرافي اخستل کيږي. دا معاينه مخ يوازي د عقيمو کسانو لپاره د دوي د تيبونو د سو اشکال او انسداد د معلومولو لپاره استعماليدل مګر نن ورځ د رحم د جوف د حالت د ځرنګوالي )د رحمي تومورونو او د رحم د عنق د تومورونو ( لپاره استعماليږي .ددي معايني سره د رحم د پوليپونو په اړه او د رحم د عنق د داخلي فوحي د عدم کفايي په هکله معلومات تر لاسه کولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Amenorrhea

**تعریف:** د میاشتنی عادت عدم موجودیت ته امینوریا وایی او یا که چیری په ی وې بالغی نجلۍ کی میاشتنی مهبلی خونری زی موجوده نه وی امینوریا ویل کیږی او **لاندی دوه ډولونه لری:**

**الف- ابتدایي ډول:** هغه شکل دی چه ښځه کله چي بلوغ سن ته رسیږی هیڅ (میاشتنی عادت )میاشتنی مهبلی خونریزی نه واقع کیږی.

**ب-ثانوی شکل:** په دا ډول امینوریا کی څو واری ۳-۶( میاشتو) تحیض لیدل کیږی وروسته تحیض توقف کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د امینوریا اسباب:

1. Reproductive outflow tract abnormalities
2. Pituitary disorders
3. Ovarian disorder Hypothalamic disorder
4. امینوریا د رحمی آفاتو له سببه
5. امینوریا د عمومی امراضو له سببه
6. روحی روانی ناروغی
7. سوتغذی
8. کم خونی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# : Imperforated Hymen

کله چه Imperforated Hymen موجود وی تحیض واقع کیږی مگر وینه د وتلو لاره نه ل ری او په مهبل کی تجمع ک وی چه دغه حالت ته Hemato colpusوایی ،که چیری دغه حالت ادامه پیدا کړی وینه نور هم تجمع کوی او د رحم و عنق ته داخلیږی چه دا حالت ته Hemato tracheusوایی ،که چیری تداوی نه سی د تحیض وینه د رحم په جوف کی ټولیږی چه د Hemato metraپه نامه یادیږی.که چیری بیا هم دا حالت دوام پیدا کړی او وینه په نفیرونو کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

The image part with relationship ID rId2 was not found in the file.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجمع وکړی په دی حالت کی Hemato salpinx ورته ویل کیږی به پای کی که چیری دا

وضعیت نور هم دوام پیدا کړی او وینه د پریتوان جوف ته داخل شی او هلته تجمع وکړی د Hemato peritoneum په نامه یادیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تشخیص:

ددغي آفت تشخیص د تاریخچي،اعراض ، علایم، او فزیکی معایناتو په واسطه صورت نیسی .په تاریخچه کی مریضه د مهبلی خونریزی د نه موجودیت څخه حکایه کوی .په فزیکی معاینه کی د Supra pubicپه ناحیه او یا د Hypo gastric په ناحیه کی کتله جس کیږی،همدا رنګه په Rectal Touchکی د وینی کتله په مهبل کی د جس وړ وی او په تفتیش کی بکارت غشا شین رنګی او بهر خوا ته بر جسته راوتلئ معلومیږی. که چیری پریتوان جوف ته وینه داخل سی د RTمعاینې په واسطه دوګلاس جوف ډک جس کیږی. التراساوند په تشخیص کی مرسته کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تداوی:

تداوی یی جراحی ده ،هایمن په نورماله اندازه شق کیږی،هغه وینه چه تجمع یی کړی وی خارجیږی او ستونزه حل کیږی.د

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دامینوریا د تشخیص لپاره لاندی معایناتونه اجرا کیږی:

| |
|---|
| ○ Pregnancy Test |
| ○ په نجونو کی د بکارت د غشا معاینه |
| ○ د ګلایسیمیا معاینه |
| ○ د کولسترول معاینه په وینه کی |
| ○ د وینی روټین معاینات |
| ○ اندوکراین معاینات |
| ○ د بطن راډیوګرافی |
| ○ هستروسلپنګوګرافی |
| ○ لپروسکوپی |
| ○ کولدوسکوپی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Dysmenorrhea

**تعریف:** عبارت دئ له دردناکه تحیض ځخه چی په دې حالت کي درد د بطن د سفلي برخو او قطني نا حیې ځخه شروع کیږي او په پیشرفته حالاتو کي و سفلي اطرافو ته انتشار کوي کله کله دلبدي او استفراقات هم موجود وي. دیسمینوریا په دوه ډوله لیدل کیږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ابتدايي ډیسمینوریا:

دغه ډول ډیسمینوریا ته ایډیو پتیک یا سپزموډیک ډیسمینوریا هم ویل کیږي. دا ډول ډیسمینوریا په پیغلو نجونو او په هغو ښځو کي چی ولادت یې نه وي کړي (Nulliparous) لیدل کیږي په ابتدایی ډیسمینوریا کي عضوي آفت موجود نه وي او **لاندي ځانګړتیاوې لري:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **د درد شروع:** معمولا څو ساعته مخکي او يا د تحيض څخه وروسته شروع کيږي.
- **د درد موده :** معمولا ۴۸ ـ۷۲ ساعته) ۱۲-۷۲ ساعته ( پوری دوام کوي.
- **د درد ځانګړتيا:** درد کيدای کرمپی وی يا کوليکي او يا هم سپزموديک وي.
- **د درد ځای:**درد اکثرا د بطن په سفلي برخه کي او يا په فوق عانه کي وي او د درد شدت پر متوسط خط کي زيات وي.
- **د درد انتشار:** درد اکثرا خلف او فوق عاني ته انتشار کوي

درد اکثرا د دلبدي ،استفراقات،اسهال ،خستګئ، سر دردئ،کښته فشار او تخرشيت سره مل وي.دا ډول ديسمينوريا د سن په زياتيدو سره او د مهبلي ولادتونو سره د منځه ځي .

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثانوي دیسمینوریا( Secondary dysmenorrhea)

دا ډول دیسمینوریا د حوصلې د آفاتو له سببه منځ ته راځي.معمولا پس له ۲۵ کلنۍ ښځه لیدل کیږي مګر په لومړني تحیض او یا هم وروسته له امیدوارۍ ښځه په هر سن او سال کي شروع کیدای . درد څو ورځي مخکي له تحیض ښځه شروع کیږي او ۵-۷ ورځو پوري دوام کوي. اکثرا د رحم ،نفیرونو ،تخمواندنو ،پریتوان او حوصلي آفاتو له سببه منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تداوي:

**ابتدايی ديسمينوريا:** ډيره ښه او انتخابي تداوي يي د NSAIDs څخه کار اخيستل دئ چه ۸۰-۹۰% واقعاتو کي موثر واقع کيږي.دا دواګاني د تحيض د شروع څخه مخکي، د درد د شروع څخه بيا تر ۳ ورځو پوري تطبيق کيدای . دا دواګاني په لاندی ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| |
|---|
| Cap Mefenamicacid 250mg/QID |
| Tab Ibuprofen 400mg/QID |
| Cap Indomethacin 25mg/6-8h |
| Cap Piroxicam 20mg/BID |

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیری پورتني دواګاني موثره واقع نه د مریضې د موافقې په صورت کي انتخابی دوا OCPیا د حاملګئ ضد تابلیتونه دي.که چیري ۳-۶ میاشتي وروسته له تداوئ څخه مناسب ځواب موجود نه وو باید پر ثانوي دیسمینوریا باندي فکر وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ثانوي ديسمينوريا:

په ثانوي ديسمينوريا كي هم OCP او NSAIDsكله كله موثره واقع كيږي مګر اصلی علت يي بايد پيدا سی او تداوی صورت ونيسي.مثلاً د Cervical stenosis په صورت كي د Dilatation د عمليې څخه كار واخيستل ، د غشايی ديسمينوريا په صورت كي د كورتاژ عمليه موثره واقع كيږي،د رحم د ريترو پوزيشن په صورت كي په استجاع بطني استراحت كول د مريضۍ د بهبودي سبب ګرځي. او په پيشرفته حالاتو كي عمليات بايد اجرا چه په دي حالاتو كي د هايپوګستريک عصب قطع كيږي، د انتان په موجوديت كي) PID( طبی تداوي او حتی د جراحی عملياتو څخه استفاده كيږي ، د ت ومور په صورت کی لازمه تداوي او جراحي دي اجرا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# :Menorrhagia

که چیری د تحیض خونریزي د اوږد مهاله مودې لپاره )د لسو ورځو څخه ډیر( وي د مینورژیا په نامه یادیږي. هغه امراض چه دغه عرض تمثیلوي اکثرا سلیم آفات دی لکه د رحم فبروما وي او کله کله د مینوپوز څخه مخکي هم دغه عرض منځ ته راتلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Metrorrhagia

: په دي حالت کي د دوو تحيضي سيکلونو تر منځ غير منظم او غير وصفي خونريزي موجوده وي چه تقريبا ټول په خبيثه آفاتو باندي دلالت کوي، مګر بيا هم تحت المخاطي فبرومايوما ،اډينومايوز ،اندو متريوز،Ulceration،Erosion،TB،سقط ونه،خارج رحمي حمل او رحمي پو ليپونه دغه عرض درلودلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Oligominorrhea

: د دوو تحیضي سیکلونو تر منځ د فاصلې زیاتیدو )د ۳۵ ورځو څخه اضافه( ته وایی. د مثال په توګه یوې ښځې ته په یوه کال کې د ۱۲ وارو په عوض ممکن ۶ وارئ تحیض پیدا شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Poly menorrhea

: د دوو تحيضي سيكلونو تر منځ د فاصلي كميدو) د 21ورځو څخه كم (ته وايي. د مثال په توګه يوي ښځي ته په يو كال كي د ۱۲ وارو په عوض ممكن ۲۰وارئ تحيض پيدا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## :Hypermenorrhea

د نورمال حالت څخه د تحیض د وینی د مقدار زیاتیدو ته وایی )۱۵۰ سی سی څخه اضافه (.

**Hypo menorrhea**: د نو رمال حالت څخه د تحیض د وینی د مقدار کمیدو ته وایی) ۶ سی سی څخه کم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Bartholin’s Cyst and Abscess

**د بارتولین غده**

بارتولین غدوات په دواړو خواوو کي د بولبو کاورنوس تر عضلې لاندي د یو نخود په اندازه موقعیت لري یا په بل عبارت د ویستیبول په ۱/۳ لاندني حصه کي په عمیقه توګه موقعیت لري . دغه غده د جنسي مقاربت پر مهال یوه شفافه مایع(مخاطي( افرازوي چه د لوبریکانت رول تر سره کوي تر څو ښځه په مقاربت کي د ناراحتي احساس و نه کړي او ضمنا د انزال په وخت کي سپین رنګه شیدي ډوله مایع افرازوی چه د نارینه وو د منوي مایع سره ورته والئ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسباب:

په بارتولين غده کي کيدای ساده التهاب رامنځ ته ، چه د Bartholinitis په نامه یادیږی . که چیري التهاب په مزمنه توګه منځ ته را د غدي مجرا مسدود کيږي او د ترشحاتو د احتباس په نتیجه کي کیست جوړیږي ) د مجرا مسدودیت یا د انتان له سببه وي او یا هم د Mucosa plug(له سببه. او که چیری کیست منتن ابسې منځ ته راوړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بارتولین ابسې معمولاً پولي میکروبیال وي ،مګر %۳۰-۲۰ واقعاتو کي نایسریا ګونوکوک یی لامل وي همدارنګه کلامیدیا او ګونوکوک هم د ابسې لاملونه کیدای . بارتولین ابسې معمولا یو طرفه وي او سریع سیر لري د ۲-۳ ورځو په موده کي تشکل کوي او د یوې دردناکې پړسیدلې ،سور رنګه او متموجې کتلې په شکل تظاهر کوي او مریضه په ډیره سختي سره تګ کوي او ضمنا Dyspareunia به ولري. په اکثرو مواردو کي د ۲-۴ ورځو په جریان کي خود په خوده خلاصیږي او تخلیه کیږي .

باید په یاد ولرو چه بارتولین کیست درد ،حسا سیت ،سوروالئ او التهاب نه لري یواځي کیستیک کتله موجوده وي سایز یې د نخود څخه نیولې بیا د هګۍ تر اندازې پوري فرق کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تداوي:

کیست که چیرې اعراض و نه لري کومې خاصې تداوي ته اړتیا نه لري او که چیرې اعراض موجود وي دریناژ توصیه کیږي تر څو له Word catheter Insertion څخه کار واخیستل ، یو ساده Incision اجرا او دریناژ ترسره کیږي تر څو کیست خپل لومړي حالت ته وګرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library


# Cervicitis

د نسايي د معمولو تشوشاتو څخه دئ، ۵۰% ښځى يه ځواني کي په دي آفت اخته کيږى. هغه مهم حالت چه واقع کيږى عبارت دئ د Endo- cervical canal د حجراتو د زياتوالى او غټوالئ)هايپرپلازياو هايپرترفي( څخه او ددغه حجراتو د عنق د فوهې خارجي خواته راوځي.

د سرويکس مزمن التهاب دئ چه د Chronic cervicitis سببChronic ګرځى او کيداى شى په Infertility اوLeucorrhea, Abortion يو علت وي. ۶۰% هغه ښځي چه ولادت کي د cervical carcinoma راتلونکي

پي کړي وي په cervicitis اخته کيږي.کله چه عنق د ولادت پرمهال تر فشارلاندى راځى او لسريشنونه واقع کيږى او بالاخره دغه د لسريشن ناحيه منتن کيږ.ى او د بدلون سره مواجه کيږى بنفسهي او قصدى سقطونه او د جراحى سامان آلاتو استعمالول په ناحيه کي کولاى التهاب رامنځ ته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نور مساعدکوونکی فکتورونه:

- په مهبلی او مقعدی نواحیو کی د حفظ الصحې نه مراعات کول.
- د مقاومت ټیټوالئ
- د استروجن کموالئ
- د ویتامینونه کمبود
- د عنق دومداره تخریب
- مختلف انتانات

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرویکس د Chlamydia انتاناتو لپاره ډیر مناسب ځای دئ چه په جنین کی د Conjunctivitis سبب کیږی ، ویروسونه هم سرویکس ماوف کولای شی لکهV: . Herpesدوهم تایپ چه په سطحي شکل Vesicular قرحات په عنق کي منځته راوړي التهابی پروسه په عنق کی د یوی سطحی التهاب او انتان په شکل شروع کیږی اوپه لومړي ساعتو کي Endo cervix ماوف کوي او بالاخره د ۱-۲ و رځو په ترخ کي انتان ته د سرویکس عمیقو طبقاتو ته نفوذ کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرویکس مهم رول د تولید په پروسه کی د یو شفاف رقیق او د حجراتو بغیر مخاط افرازول د Ovulation په وخت کي دئ چه د سپرم د داخلیدو زمینه د رحم وجوف ته مساعد کوي او کله چه افرازات منتن ،غلیظ او چسپناکه شی ددغه عملیې څخه مخنیوئ کوي. او د ناحیې شدید مصابیت د انتاناتو په واسطه د سوډیم کلوراید او اوبو د ډیر ضایع کیدو او د مخاط د غلظت د زیاتوالی او د ناحیه PH تیتوالی لامل ګرځی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د باکتریاو او Leucocytes شتون د عنق په ناحیه کي سپرم لپاره مضر تمامیږی چه وروسته د تداوی ځخه د ناحیه PH نورمال حالت ته ګرځی . حجروی نشوو نما متوقف کیږی مګر ناحیه په مکمله توګه نورمال شکل نه اخلی او د احمراری ساحې په شکل پاته کیږی ،هغه غدوات چه افرازات یی مسدود کیږی Nabothian cyst منځته راوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعراض و علایم:

- د ovulation پرمهال د عنق مخاط شفافی وی بیله حجراتو افرازوی مرحله کی مخاط چسپناکه / غلیظ او کیژی Mucoprulant
- Leucorrhea لیدل کیږی چه دغه افرازات چسپناکه او بوی ناکه وي. او د ناحیه د سوزش او تخریش سره یو ځای وی.
- عقامت یا Infertility هم یو له هغو عواملو څخه دئ چه د غلیظ،اسیدی او قیحی مخاط له سببه چه په سرویکس کي وي او د سپرم د داخلیدو څخه و رحم ته مخنیوي کوي منځ ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د ملا درد د Uterosacral د نا حيې د Lymphangitis له سببه منځ ته راځي .
- Dyspareunia, Dysmenorrhea ،د بطن د سفلي برخي دردونه
د پريمتريوم د احتقان يا Congestion له سببه را منځ ته کيږي.
- ديسيوريا، فريکونسي د يوريترايتس له سببه منځ ته راځي.
- ميترورژيا : هايپريميا په التهابی سرويکس کي يوه وينه لرونکي سطحه تشکيلوي چه د دوو تحيضي سيکل تر ما بينځ او يا هم ورو سته د جنسي مقاربت څخه د Spotting په شکل خونريزئ ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- سقطونه: د حمل په سر کي د Deciduaitis او Placentitis له سببه وي.
- Cervical dystocia د مزمن التهاب وروسته cervical fibrosis او cervical stenosis منځ ته راځي چه د ولادت پر مهال د عنق دعدم تو سع او یا هم د ناقصې توسع باعث ګرځي.
- که چیري د سرویکس د افرازاتو څخه سمیر وا خستل یو ډیر شمیر لیوکو سایتونه او پس Gram Stain څخه ګرام منفی دیپلوکوکونه د ګونوریا په واقعاتو کي ښیی. ممکن ستریپتوکوکونه،ستافیلو کوکونه او E.Coli هم ولیدل.
- کولپوسکوپی التهابي تغیرات په سرویکس کي ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخنیوئ:

| |
|---|
| د ترضيضی ولادتو ثخه مخنیوئ |
| د سرویکس د لسریشنونو ترمیم) د 1.5cm(ثخه زیات. |
| د عنق او مهبل د التهاباتو تداوئ د انتاناتو په صورت کي تر ثو سرویکس ترمیم کیږي. |
| دانتاناتو په صورت کي د عنق او مهبل ثخه د سمیر تهیه کول. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تداوي:

که چيري د سرويسيت علت STIs وي خاص تداوي ته ضرورت لري ،که چيري د انتا ن موجوديت ته مشکوک وو انتان بايد تداوي ،د تدواي څخه هدف دا دئ چه انتان محدود کړای ، رحم او تيوبو ته او د حمل په صورت کي جنين ته انتشار و نه کړي. تداوي د انتان په ډول پوري مربوط دئ که چيري فنګس وی انتی فنګل او که چيري ويروس وي انتي وايرل دواګاني او د باکتريا په صورت کي انتی بيو تيک ورکول کيږي.په تداوي کي جنسي پارتنر هم با يد تداوي او د تداوي تر ختم پوري بايد د جنسي مقاربت څخه ډډه وښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

# Cervical Polyp


**تعریف:** اکثرا کوچني ذنب یا لکئ لرونکي ساختمانونه دي چه د عنق د فوحي څخه خارجیږي،کله هم د عنق په جدار کي موښتې وي او ندرتا د شعلې) Flame)په شان یا دوک مانندده هم وي .اکثرا سور جلا داره رنګ لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




It isn't fully understood why cervical polyps occur.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي علت يي معلوم نه دئ،مګر يو سببي عامل د عنق مزمن التهاب ښودل شوي ده.په هغو ښځو کي چه د توليد په مرحله کي دي ډير ليدل کيږي مګر د مينوپوز په دوره کي هم ليدل شوي دي. د پوليپ منشا د اندو سرويکس د اپيتل څخه وي ،په مرکزي برخه کي اوعيه او شاو خوا يې د غدواتو په واسطه پو ښل شوي وي او د يو فايبرو وزکيولير (Fibro vascular)ذنب، درلودونکي وي.

اوږدوالي يې د څو ملی متر څخه بيا تر ٢سانتيمترو پوري رسيږي او کله تر هغه هم زيات ليدل کيږي.Endo cervical polyp اکثرا ذنب لرونکي وي او د سرويکس د خارجي فوهې څخه خارجيږي او سطح يې نازک او وينه ورکوونکئ وي اکتو سرويکل پو ليپونه پلن او خاسف

وي، ذنب نه لري ،او په سطح پوري موښتئ وي يا )التصاق لري (اود سکواموز اپيتل له نوعې څخه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعراض او علایم:

لوکوریا یوه ډیره مهمه ستونزه ده چه اکثرا د غیر نورمال خونریزئ ) هایپرمینوریا( سره مل وي او په شځو کي د عقامت سببکیږي. او په ډیر عمر لرونکو ښځو کي د مینوپوز په د وخت کي د خونریزیو لامل ګرځي.د سپیکولوم د معاینې سره د مهبلي کانال او عنق که ولیدل د پولیپ شتون تثبیت کیږي چه وروسته باید لیری د تشخیصیه D&Cپه ذریعه هم تثبیت او لیري کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تداوي:

**دوايی تداوي:** د انتان په صورت کي باید د انتان ضد تداوي صورت ونیسي.

**وصفي تداوي:** وصفي تداوي جراحي دی.ټول پولیپوته د ذنب د ناحیې څخه ټینګ نیول کیږي او قطع کیږي. د قطع کیدو په صورت کي د خفیفې خونریزئ امکان شته. غټ پولیپونه د لوی جراحي عملیات ایجاب کوي چه په دي حالت کي جراح باید پولیپ په مکمله توګه وباسي او خونریزئ کنترول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د میاشتنی عادت نه مخکي سندروم Pre Menstrual Syndrome:

داسندروم دتحیض دسیکل دواقع کیدو نه مخ  منځته راځي چه په ښځه کي روحي ، فزیکی  او رفتاري تغیرات ښکاره کیږیادښځي دکارقدرت کمیږي ددغه سندروم اصلي علت معلوم ندی . اعراض ئي عبارت دی له دتیو حساسیت ، تخرشیت ، خوابدتیا یا Depression ، دخوب نشتوالی ، دسر درد ، دکوټل کیدو احساس ، دوزن زیاتیدل ، سږه خوله ، دغوږونوشرنګی،  ژړا ، دنس باد اوبریښ ، داشتها زیاتیدل اودبدن په فعالیت کي دهمږغی نشتوالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه اودنرسنګ کړنی:

--ناروغ ته باید ډاډ ورکول چه دا حالت خطرناکه ندی . ناروغ ته لاربنتنتوونه کیږي چه پلي وګرځي ، منا سب خواړه څخه ګټه واخلي دغوړ اومالګي څخه پرهیز وکړي اوپروتئني مواد ، ابلن شیان او کاربوهایدریت څخه ډیره ګټه واخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# Menopause یا د میاشتنی عادت دریدل

**مینوپوز:**د سن په زیا تیدو سره د مبیضي فو لیکولونو فعالیت او تعداد کمیږي ،تقریبا د ۴۰ کلنۍ په حدودو کي دغه د اختلال علایم متبارز کیږي اوپه شخص کي غیر منظم خونریزۍ او د استروجن د سو يې کمښت رامنځ ته کیږي .د ژوند دغه مرحلې ته Climactericدوره ویل کیږي ) ۶،-۱۲ میا شتي(وروسته ددي مرحلی ځخه تحیض نه واقع کیږي او Menopause ورته ویل کیږي. د مینوپوز متوسط سن ۴۵-۵۵ کلنۍ دئ. مینوپوز یو فزی ولوژیک حالت دئ چه په دي حالت کي د استروجن د سویی کمښت په شدیده درجه د LH,FSHد زیاتواوالي په نتیجه کي منځ ته راځي او د مینوپوز د دوري تول تغیرات د همدي استروجن د کاهش له سببه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# کلينيکي تظاهرات:


**Hot flash**یا د vasomotorد سیستم ناپایداری او عدم ثبات: د Climacteric او مینوپوز د د مرحلو ډیره جدی او ناراحت کوونکي علامه ده ،تقریبا %۷۵-۸۵ښځي مصابیږي.دغه علامه د صدر او علوي اطرافو) سر،مخ،صدر،اوږي او لاسونه( د ناګهاني سره کیدل او تودیدلو څخه عبارت دئ چه کله د خوله،ضعف،دلبدي او استفراغاتو سره هم مل وي، حمله اکثرا تر ۵ دقیقو څخه لږدوام کوي او معمولا څوځلي په ورځ کي منځ ته راځي ،په شدیدو مواردو کي په خوب کی هم منځ ته راځي او د مریض د خوب د اختلال سبب ګرځي. Hot flash اکثرا وروسته له ۲- ۱ کالو څخه له منځه ځي اما په %۳۵ کسانو کي تر ۵ کالو پوري هم دوام درلودلای. ددي حالت علت د الفا ادرینرجیک سیستم د فعالیت کموالئ د استروجن د هورمون دزیات کمښت او یا هم د نه شتون له امله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# : Osteoporosis

د عظمي کتلې و کمښت ته ویل کیږي،چه په هغه کي معدني ترکیبات کمیږي) په حقیقت کي اوستیوپوروز یو کمی تغیر دي نه کیفي (زیاترینه عظمي کتله په۳۰- ۳۵ کلنئ پوري وجود لري او د هغه څخه ورو سته هر کال کمیږي. د فقراتو عظمي نسج او د عظامو دستال نهایت د ترببیکولیر د نوع څخه دي او د فیمور د عظم راس او عنق د کورتیکل له نوعي څخه دي بنا هرڅه چه د مینوپوز په دوره کي لیدل کیږي داوستیوپوروز لومړئ تایپ او په لوړ سن کي ) تر ۸۰ اضافه( داوستیوپوروز دوهم تایپ وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library





**Figure 3.4** Physiological effects of oestrogen.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په لاندي حالاتو کي او ستيوپوروز ډير او شديد ليدل کيږي:

۱- سپين پو ستان

۲- Early Menopause

۳- فاميلي تاريخچه

۴- د سګرټ مصروف

۵- نا مناسب غذايی رژيم) د کلسيم او ويتامين D کمښت، د کا فيين ،الکهول او پرو تين ډير استعمال(

۶- اندوکرايني اختلا لات لکه ديابت او کوشنګ سندروم

۷- د حرکت او فزيکي فعا ليت کموالئ

(c) ketabton.com: The Digital Library




Figure 5.2 Osteoporosis of the vertebral column.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Urogenital tract:

د استروجن کمښت د مهبل د مخاط د اتروفي سبب او په نتيجه کي د اتروفيک وجينا يتس د منځ ته راتلو لامل ګرځي چه دخارش ،سوخت دردناکه مقاربت او کله هم د مهبلئ خونريزئ سره مل وي.د استروجن قطع کيدل د رحم په حمايوی انساجو.

(cardinal & lig. Uterosacral) کي د کولاجن د اليافو د کمښت باعث ګرځي او په پايله کي يی مقويت يا Tonicityکميږي او رحم پرولپس کوي.

د جنينی له نظره د مثاني د trigon او احليل نسج د استروجن سره تړاو لري ځکه د استروجن کمبود کولای د احليل مخاط اترو فيک کړي او د Urinary urgencyيا د ادرار دتکرر ،سوخت او عدم اقتدار سبب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Cardiovascular:

په ښځو کې ورو سته د مینوپوز څخه د مړینې کچه د قلبی وعایی آفاتو له امله کمیږي، استروجن د مینوپوز په دوران کي قلبي وعایی امراض کموي علت یی د پرو ستا ګلندینونو په میتابو لیزم کی تغیرات رامنځ ته کوي ،د پرو ستا سا یکلین د زیاتوالئ او د ترومبو کسان  دکمښت باعث کیږي ضمنا دمستقیم vasodilatation له امله دCVDخطرات په نسبی ډول کموي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جلد:

داستروجن کمښت د کولاجن د الیافو د کمښت ،د درم د طبقي د نازکیدو اوبالاخره دبدن پر پو ست باندي د ګونجو د زیا تیدو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تداوي:

استروجن تر دي مهاله يواځنی دوا د ه د هغو اعراضو تداوئ لپاره کوم چه د مينوپوز په دوره کي منځ ته راځي. که چيري کوم عدم استطباب موجود نه وي لکه: د ثديی سرطانونه،اندو متريوم سرطان،کبدی حاد امراض،تحثري حاد اختلا لات او مهبلي خونريزي په نا معلومه دليل سره ،دا ځکه چه استروجن د ثديی د مخفي سرطانونو د زياتوالئ سبب کيږي بنا، د کمښت لپاره  بايد په يو وخت کي پروجسترون هم تو صيه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# که چیري او ستیو پوروز تاسس کړي وي:

استروجن ارزان،موثر او بهتر ینه تداوي ده او که چیري استروجن مضاد استطباب وو د استروجن په عوض Calcitonin د استفادي وړ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د کافيين د مصرف کمول
- منظم فزيکی فعاليت
- د چاپيرېال د حرارت درجه بايد معتدل وسا تل شياو نسبتا نازک جامي دي واغوستل.
- استروجن اصلي تداوي ده.
- که چيری استروجن مضاد استطباب وي او د ويني فشار هم لوړ وي د adrenergic alpha2 اګونست لکه ميتايل دوپا څخه استفاده کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښځو د تناسلي غړو انتانات
# Infection of Reproductive Organs

## د فرج التهاب یا Vulvitis :

دفرج جلد کیدلای چه په ټولو جلدي ناروغیو اخته همدارنګه دفرج جلد اکثراَ په مخرش موادلکه دتحیض ددوري افرازات ، دمهبل افرازات ، ادرار او غایطه موادو سره مخامخ دی چه دفرج دجلدي ناروغیو لپاره ډیره ښه زمینه جوړوي ، همدارنګه دتنګو زیرجامو اغو ستل او ډیر تنګ پطلون اغو ستل ، دځیني صابونانو ا ستعمال ، دعطر لرونکو پودرو ا ستعمال او ځیني اسپري ګاني همدارنګه دتناسلي ناحیي ډیر رطوبت اودتنګو کالیو اغوستل ، همدارنګه چاغښت اودشخصي حفظ الصحي نه مراعات کول دفرج دالتهاب سبب او دناروغۍ مساعد کوونکی فکتورونه بلل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناروغۍ اصلي اعراض عبارت دي له : دفرج خارش اوسوزش ځخه

دفرج خارش کيدلاي چه دعمومي ناروغۍ دیابیت Leukemia اويرقان له امله هم رامنځته سی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه او د نرسنګ کړنی:

ناروغ ته لارښ وونه کیږي چه شخصي حفظ الصحه مراعات کړي خپل زیر پوښونه هره ورځ تبدیل اوپاک پریولي . دعطر لرونکو اومخرش صابون داستعمال څخه ډډه وکړي دالتهاب اود درد دکمښت لپاره Sitz bath یا بیحس کونکی کریم اویا دالتهاب ضد درمل څخه ګټه اخیستل کیږي اودورځي دوه – دري پلا فرج باید په پاکو اوبو پریولل سی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مهبل التهاب یا Vaginitis

مختلف عوامل دمهبل دمونتن کیدو سبب ګرځي لکه Herpes ,Moniliasis ,Condidiasis ,Trichomonase او تومورونه.دمهبل دالتهاب په وخت کي دمهبل افرازات زياتيږي اودمهبل دخارش او سوزش سبب ګرځي . کله په نورمال حالت کي سپين شفاف افرازات په مهبل کي دمياشتنۍ عادت نه مخکی او وروسته ليدل کيږي چه بايد دمهبل دالتهاب سره غلط نشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه او د نرسنګ کړنی:

ناروغ ته لاربښونه کیږي چه شخصي حفظ الصحه مراعات کړي ، زیر پوښونه هره ورځ تبدیل اوپاک پریولي ، دناروغۍ تر شفا کیدو دجنسي تماس څخه ډډه وکړی اوداړتیا په صورت کي دانتي بیوتي واژینال کریم او یا تابلیت څخه کار اخیستل کیږي . د میاشتنۍ عادت په وخت د واژینال تامپون څخه استفاده کول ډیر ښه کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مهبل اتروفيك التهاب : Atrophic Vaginitis

دا ډول التهاب خصوصاََ دHysterectomy څخه وروسته چه تخمدانونه هم ليري شوي وي اويا شعاعي درملني څخه وروسته ليدل کيږي ځکه هغه مخاطي غشا چه دا ستروجن ترتاثير لاندي فعاليت کوي دهورمونو دکمښت څخه وروسته پدغه ناروغۍ اخته کوي داناروغۍ يوازي په مهبل پوري محدود ندی بلکه دښځي دخارجي تناسلي غړي دالتهاب سبب کيدلاي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعراض :-

افرازات ، سوزش ، اودمهبل دناحيي دردځخه عبارت دی . افرازات لږ نری رقيق وينه لړونکی او خړنګه وی چه دهغه نسج مقاومت نلري نوځکه نژديکت دردناکه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه اودنرسنګ کړنی

ددغه ناروغۍ درملنه داستروژن دتطبیق اوموضعي استعمل څخه عبارت دی ځيني استروژن مهبلي کريم ديوي اوونۍ لپاره په ورځ کي 3- 2 ځلي بايد استعمال . ناروغ ته بايد لاربنوونه وسی چه دهرډول تخريش کوونکو اوتنبه کوونکو موادو داستعمال څخه ډډه وکړي زيرپوښ جامي بايد نرمي اوپراخي وي اوهره ورځ بايد تبديل او پاکی پريولل سی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# :Candidiasis

د دغه مرض عامل فنګسونه دي  دیابیت او حاملګي دهغه مساعد کوونکی  عوامل بلل کیږي هغه ښځي چه په مینوپوز کي قرار لري ډیر لیدل کیږي دویتامینونو کمبود خصوصاَ VitB Complex ، کمخوني ، چاغوالی ، خوارځواکي ، رطوبت ، ډیره خوله کول او دحاملګی ضد دوا استعمال کولاي   چه دا ناروغی منځته راوړي . دمرض عامل دلاسونو ، دستمال ، جنسي مقاربت ، چټل لباس او ناپاکو سامان آلاتو پواسطه انتقال کولاي   . افرازات سپین یا لږ ژړ وزمه وي  په اکثره واقعاتو کي دمهبل افرازات لږ او داوبو په شکل وي دمریض عمده شکایات عبارت دي له : ډیر خارش ، دمهبل او فرج سوزش ښخه   ، کله هم دا اعراض دومره شدیده وي چه دناروغ دخوب خنډ ګرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه او د نرسنګ کړنی:


ددرملني لپاره دفنګس ضد مهبلي کريمونو څخه استفاده کوو دحامله ګۍ په دوران کي دمرض درملنه يو لږ څه مشکل دی اويوازي ناروغ ته تسکين ورکول کيږي اودولادت تر وخته پوري ادامه مومي ، که دفرج خارش کوم زخم پيدا کړی و بايد سوړ کمپرس او انتي هستامين دخولي له لاري ناروغ ته ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library







(c) ketabton.com: The Digital Library

# Trichomonasis

د شایع یا معمول ناروغیو له جملي څخه دی او اکثراَ کوم اعراض او علایم نه ښیيي ، کیدلاي  چه نارینه هم اخته کړي دمریض عمده شکایات دمهبلي افرازاتو ، درد ، سوزش ، خارش، او دمقاربت په وخت کي د درد احساس څخه دی . دناروغی عامل : چټل سامان آلاتو استعمال ، چټل دستمال ، اودجنسي مقاربت پواسطه انتقال مومي . دمهبل کتل او داسپیکولوم داخلول په مهبل کي دردناکه وي او ناروغ دسردرد ، دملا دناحیي ددرد او دحوصلي د دردونو څخه شکایت لري . دمرض عامل یو پروتوزوا دTrichomonas پنامه دی او دمیکروسکوپ پواسطه دلیدلو وړ دی . هغه نارینه چه پدغه ناروغی اخته وي دمرض دناقل په حیث پیژنو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه او دنرسنګ کړنی:

ځرنګه چه دمرض عامل دښځي او نارينه پواسطه انتقال مومي نو بايد دواړه يو ځاي تداوي او دجنسي مقاربت څخه ډډه وکړی دارتيا په وخت کي دکاندم څخه استفاده وسی ، انتخابي دوا Metronidazol دی دناروغی دمخنيوي لپاره روغتيائي تعليمات ډير مهم دی اوناروغ ته لارښونه کيږي چه خپل حفظ الصحه پاکه وساتی او دچټلو شيانو داستعمال څخه په مهبل کي ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Infertility یا عقامت



(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعریف:


كه چيري يوه ښځه اوميړه يو كال ورو سته له واده څخه په دا سي حال كي چه منظم جنسي مقاربت لري او د هيڅ ډول كانتراسپتيفونو څخه هم استفاده نه كوي مګر بيا هم اولاد ونه لري ورته عقامت يا Infertilityويل كيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شنډتوب
# Sterility

**تعریف:** که چیرې سپرم اوتخمه په هیڅ ډول نه سی سره یوځای کیدلای اوددوی یوځای کیدل ناممکنه وی شنډتوب بلل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

عقامت یو صحی مهم ستونزه ده چه نارینه او ښځینه په مساوي ډول متاثره کوي. ددي لپاره چه القاح صورت ونیسي نا رینه باید سپرم تولید کړي چه سالم وي،مقدار یی ډیر وي او په مهبل کی انتقال ،همدارنګه ښځه باید سالم تخمه تولید کړي ،د رحم د عنق مخاطي غشا باید سالم وي تر څو سپرم و رحم ته داخل کړي ،برعلاوه ښځه باید سالم نفیرونه ولري چه انسداد ونه لري تر څو تخمي ته د عبو ر اجازه د تخمدان څخه و رحم ته ورکړي بالاخره ښځه با ید سالم رحم ولري ترڅو القاح شوي تخمه غرس کړي او د ولادت تر مهاله پوري ورته وده او انکشاف ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عقامت ډولونه: عقامت دوه ډوله لري:

**ابتدایی عقامت:** هغه زوج ته ویل کیږي چه ښځه یی هیڅکله حمل نه وي اخستئ.


**ثانوي عقامت:** هغه زوج ته ویل کیږي کوم چه یو یا څو او لاده لري مګر د بل او لاد د درلودلوقدرت نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مساعد کوونکي فکتورونه:

مخکي له دي څخه چه د عقامت پراسبابو باندي بحث وکړو پر هغو فکتورونو باندي په لاندي ډول بحث کوو کوم چه په عقامت کي مهم رول لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱-عمر:** په ځوانو ښځو کي چانس د حمل زيات وي دا ځکه چه د مينوپوز څخه مخکي اکثرا څوتحيضي سيکلونه غير تبيضي وي او د حمل امکان وجود نه لري.

۲- پس له ۳۵ کلني څخه په نارينه کي د اندروجنونو هورمونونو د سويې د کمښت له امله سپرماتو جنيز لږيږي ،او د ښځي د حمل چانس کميږي.

**۳- تغذي او صحي وضعيت**: يوه اندازه پر سپرماتو جنيز باندي ر ول لري ،په چاغو ښځو کي د تبيض د کمښت له امله چانس د حمل کم وي.

**۴- سايکولوژيک فکتورونه**: اضطراب او روحی شديد فشارونه مهم رول درلودلای او د يو لړ تغيراتو سبب په نيورو اندوکراين سيستم کی کيږي کوم چه تبيض او سپرماتوجنيز کنترولوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عقامت اسباب:

په عمومي ډول د عقامت اسباب په دوه ډوله ویشل کیږي:

۱- په ښځو پوري مربوط اسباب

۲- په نارینه پوري مربوط اسباب

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عقامت اسباب په بنځو کي:

- د تبيض عدم کفايه
- د نفيرونو بندش يا انسداد چه عمده سبب يې PIDوي.
- هايپو تايروايديزم
- ديابت يا د شکر مريضي
- داخل رحمي التصاقات د تروما له امله کوم چه د متعددو کورتاژونو په نتيجه کې منځ ته راځي.
- اندو متريوزس
- د سرويکس د مخاط په وظيفه کي خرابوالئ
- مايوما) فبروما(
- د رحم د عنق د افرازاتو عدم کفايه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عقامت اسباب په نارينه کي:

- د سپرماتو جنيز په عمل کی نقصان اکثرا په نارينه کي د عقامت سبب جوړوي
- د منوي مايع ضعيف کيفيت او د منی مايع د ذخيره کولو عدم توانايی په مهبل کي.
- په ځينی نارينه په منوي مايع کي د سپرمونو تعداد کم وي او يا د فعاليت له نظره سپرمونه غير متحرک وي او يا هم مني ډير غليظ او يا هم ډير رقيق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مني د کيفيت د ضعيفوالي اسباب:

فزيکي فکتورونه لکه لوړ حرارت،د تنګو نيکرونو اغو ستل ،په دوامداره توګه د بخاري او يا هم تنور په خنګ کار کول ،مستقيه جرحه د خصييو پر ناحيه ،سګرت څکول،د الکولي مشروباتو استعمالول،هيرويين،کوکاين ،STIs امراض لکه :ګونوريا او طولاني امراض لکه کله چرک(Mump) وروسته د بلوغ څخه .د خصيې عدم نزول په سفن کي ،ډير کوچني او غير نورمال خصيې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عقامت تشخیص او معاینات:

په عمومي توګه په عقامت کي باید ښځه او میړه دواړه معا ینااتونه تر سره کړي. په ښځو کي د تحیض تاریخچه،نسا یی مخکني امراض او د تغذي حالت وپو ښتل.

په نارینه کي Erectionد Ejaculationنوعیت ، د orichitis مخکني تاریخچه او جنسي امراض وپو ښتل.


فزیکي معاینات په ښځو کي د حو صلې معا ینه او په نار ینه کي د خصیی معاینات دي د سو شکل او جسامت له نظره،د Hernia, Varicoceleموجودیت وخیړل ،سربیره پردي د دوي لپاره لاندي **معا ینات هم با ید اجرا:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

- Semen analysis
- دتبیض لپاره تست
- Test for potency
- Cervical compatibility
- Post coital test
- د پرولکتین د سو يې تعینول په سیروم کي
- د اندومتریوم بیو پسی او هستولوژیک معا ینات

(c) ketabton.com: The Digital Library

# PCT



(c) ketabton.com: The Digital Library

# :Semen analysis

د سپرم د معا ينې لپاره عمده ټکي په لاندي ډول دي:
کله چه غواړو سيمين معا ينه کړو بايد مريض دري ورځي مخکي جنسي عمل يې نه وي تر سره کړئ.

کله چه سيمين دمعاينې لپاره اخستل کيږي با يد د ۱-۲ ساعتو په جريان کي معاينه.

د ښه نتيجې لپاره بايد سيمين دوه،دري ځلې معا ينه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د انتي بادي سپرم تعينول:

که چيري د مريض په سيروم کي انتي بادي سپرم موجود وي په نتيجه کي يی کله چه سپرم د سرويکس د مخاط سره په تماس کيږي،غير متحرک کيږي او القاح صورت نه نيسي.هغه تست چه په دي هدف اجراکيږی Mixed agglutination reaction . نوميږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | Semen analysis | |
|---|---|---|
| 1 | Volumes | 2-6.5cc |
| 2 | Liquefaction | Complete in 30 min |
| 3 | Count | 20-30milliom/ml |
| 4 | Mortality | 60% in first hour |
| 5 | Abnormal form | ≤ 30% |
| 6 | WBC | Nil |
| 7 | RBC | Nil |
| 8 | Fructose | + + |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تست د تبیض د معلوموملو لپاره:

د تبیض د معلوملو لپاره لاندي معاینات ترسره کیږي:

- **د حرارت د درجې تعینول:** دخوب شخه د ویښیدو ورو سته مخکي له دي چه د بستر شخه ولاړه د خانم د بدن د حرارت درجه دي تعین ،که چیري دبدن د حرارت درجه د تحیض په خوارلسمه ورځ 5.0 لوړه شوي وي پر تبیض دلالت کوي.
- **د رحم د عنق د مخاط معا ینه:** چه د تبیض پر مهال د سرویکس افرازات ډیر او رقیق وي.

د خانم د ویني سمپل د سایکل په لو تیال فیز کي واخستل ،که چیري د پروجسترون مقدار 5mg/ml او یا تر هغه پورته وو پر تبیض یا Ovulation دلالت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تداوي:

**۱- د غیر تبیضي سایکل تداوي:** clomiphene 50mg تابلیت څخه استفاده کیږي چه انتي استروجنیک او یا خفیف استروجنیک خاصیت لري د یو منفي فید بک په شکل پر هایپو تلاموس اثر کوي او د FSHاوLHد افراز سبب ګرځي.

**۲- د هایپر پرولکتینیمیا تداوي:**د بروموکریپتین د 2.5mgتابلیتونو څخه استفاده کیږي،یو هفته وروسته 2.5mgاضافه کیږي او بالاخره 7.5mgته رسیږي ،تداوي تر ۱۲ میاشتو پوري تر څو چه د پرو لاکتین سویه نورمال حد ته رسیږي ادامه ورکول کیږي.

۳که چیري نتیجه مثبت نه وو د Salpingostomy,salpingolysis &Tubal anastomosis:د **نفیرونو د بندش تداوي.-** څخه استفاده کیږي IVF( Invitro fertilization)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# :Vaginal Fistula

**تعريف** :فيستول دهغه غير طبيعي منفذ څخه عبارت دی چه دبطن داخلي احشا او هغه غړو چه دبدن دخارجي برخي سره ارتباط ولري د ښځو په تناسلي سيستم کي دوه مهم فيستولونه موجود دي:

**a – Vesico Vaginal:** --پدغه حالت کي فيستول يا منفذ دمثاني او مهبل په منځ کي واقع وي

**b – Recto Vaginal: --** چه منفذ درکتوم او مهبل په منځ کي واقع شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه اودنرسنګ کړنی

ددغه ناروغۍ درملنه جراحي عمليات دی چه دمنفذ غير طبيعي لاره بنديږي . نرس  ناروغ ته لاربنتتوونه کوي چه خپل شتتخصيتت روغتيا ستتاتني ته پاملرنه وکړي او په دوامداره ډول د Sitz Bath څخه استفاده وکړي اودبدبوئي دليري کولو لپاره  دخوشبو سپري څخه استفاده وکړي او هره ورځ بايد ناروغ خپل زير پوښونه تبديل او پاک پريولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# : Cystocele/ Rectocele

مثاني كښته كيدل دمهبل دجوف خواته چه عموماَ دبلاربښت او ولادت له كبله منځته راځي اودسن په زياتيدو داحالت زيات كيږي . په ځوان مولتي پارMultipar ښتځوكي اوهمدارنګه دمينوپوز دستن نه مخ هم ممكن وليدل ركتوستل اودعجان ځيري كيدل ممكن دولادت په وخت كي دحوصلي انساجو اوعضلاتو په ناحيه كي واقع . ركتوسل دمهبل لاندي عضلاتو ځيري كيدل څخه عبارت دی چه كولاي دركتوم دراوتلو سبب كه دا ځيري كيدل زيات كي دلاي چه تر مقعدي اسفكتر پوري دوام وكړي .په سيستو سل كي ناروغه دډير ادرار احساس اودادرار په ټينګولو كي كمزوري پيداكوي په ركتوسل كي دنورو اعراضو سربيره دګازاتو غير ارادي خارجيدل او غايطه مواد په خپله په غيرا رادي شكل دمقعد څخه راوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درملنه او دنرسنګ کړنی :

دحوصلي عضلاتو دتقوئي لپاره دKegel دتمريناتو څخه استفاده کوو (Kegel) هغه عالم دی چه دغه تمرينات ئي کشف کړيدی پدغه تمريناتو کي دحوص لي عض لات دحوص لي دهډوکي سره موښ تی وي او ديوه چوکی په ډول کارکوي اودحوص لي غړي محفوظ س اتي. ددغه عض لاتو دتقوئي لپاره بايد ښ ځه خپل ادرار يوپلا ودروي او بيا جريان ورکړي او دغه کار څوځلي تکرار کړي د Kegel تمرين ډيري ګټي لري او دحوصتتلي غړو دپرولپس څخه مخنيوی کوي . داړتيا په وخت کي ددغه اختلالاتودليري کولو لپاره دجراحي عمليي څخه کاراخيستل کيږي .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**